AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور ۲۰۲۶/۰۲/۲۷

# فرعونيت به دې په نيل کې لاهو کيږي

د رنجيت او د اکبر مقابله ده
له هيجړا سره د نر مقابله ده
مېکناتن ورته د لرې نه رېږدېږي
راته ښکاري چې غوړونه يې غوښېږي

د آسيا د ناوې مخ باندې تور مچ دی
ورته تينګ شه دا د نيمې پېړی غچ دی
ستا د هيرا منديی ښار به ورانيږي
او پر ځای يې جوماتونه ودانيږي

ستا مرمۍ موږ ته د توکو پټاکۍ ده
ستا هر بم د پنجابي هيجړا پسکۍ ده
چې د روس او ام.ر.يکا سره جنګيږي
دا قام ستا اګربتۍ نه نۀ ډاريږي

دا ج.ه.اد پر تا په موږه باندې فرض دی
دا پر تا زموږ د نيمې پېړی قرض دی
فرعونيت به دې په نيل کې لاهو کيږي
او جهان به دې له شره نور خلاصيږي

راته ښکاري چې رينبې يې په وتو دي
ابليسي ساه ګانې نورې په ختو دي
دا تور ټکی به باوره صفا کېږي
د آسيا د ناوې مخ به ښايسته کيږی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ